هیواد
ورځپانه

## جمهورریيس غني : په هرات کې دې د مصلي پنځم منار ژر بیاورغاول شي

د افغانســتان د اســلامي جمهوريت جمهورريیس محمد اشرف غني پرون ســهار د هرات والي سيد عبدالوحيد قتالي سره د هرات مصلی د پنځم منار د بيارغاونې په اړه تلېفوني خبرې وکړې.جمهورريیس د هرات والي ته لارښوونه وکړه، چې يو تخنيکي گروپ دې ژر تر ژره د مصلي پنځم منار د وضعيت ارزونه وکړي او د بيارغاونې لپاره دې ترتيبات ونيول شي. د هرات والي ســيد عبدالوحيد قتالي جمهورريیس ته داډ ورکړ ،چې د ياد څلي د بيارغاونې په موخه به د ترسره کېدونکې ارزونې موندنې او پايله د جمهوري رياست عالي مقام سره شريکه کړي.د يادونې وړ ده ،چې د هرات مصلي منارونه د تيموريانو په دوره کې جوړ شوي او د طبيعي پېښو له امله د پنځم منار وضعيت د اندېښنې وړ ښودل شوی، چې د جمهورريیس په لارښوونه به يې حکومت د بيارغاونې اقدامات کوي.

د تاسیس کال۱۳۲۸ لمریز ● دوشنبه د لړم۱۲ مه۱۳۹۹ ل کال ● دربیع الاول ۱۶مه ۱٤٤۲ ق ● د نومبر۲ مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي ګنه ۱۷۲ ● پرله پسې ۴۹۵۸ مه ګنه

# جمهورریيس غني د یو شمېر وزارتونو او ادارو د ۱۴۰۰ مالي کال د ملي بودجې د طرحو څرنګوالی وارزاوه

۵مخ


Ketabton.com

## محمد طاهر زهير: باختر اطلاعاتي آژانس باید د سیمې او نړۍ په کچه مهم او معتبر آژانس شي



د باختر اطلاعاتي آژانس د تاسیس ۸۰ یمه کالیزه

اطلاعــاتي آژانــس د اتیایمي کالیــزې نمانځنه په

## د آسیا پراختیایي بانک له افغانستان سره ۱۸ میلیونه ډالره مرسته کوي

د افغانستان د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره وايــي، چې د آســيا پراختيايي بانــک له دې هېواد سره د کرنيــزو محصولاتو د لوړولو لپاره ۲۸،۱۸ ميليونه ډالرو مرستې ژمنه کړې ده.د دغې ادارې ويانــد نظام خپلواک پرون امريکا غږ ته ويل، چې دغه مرستې به په نهو ولايتونو کې ولگول شي.ښــاغلي خپلــواک زياته کړه: (( ياده مرســته بــه د کوچنيو بندونــو جوړولو په برخې کې مــصرف شي، چې له امله يې د مځکې لانــدې د اوبو کچه هــم لوړېږي او په پايله کې د اوبو مديريــت او نه ضايع کېدو له امله کرنيز محصولات ډېرېدي شي.))باميان،




(c) ketabton.com: The Digital Library



سرلیکنه

# د عمران خان اوتو بوتو سخت حساسیتونه را پارولي!

د پاکستان د صدراعظم په کردار کې د پوځ له خوا گومارل شوی عمران خان وخت ناوخت د افغانستان د برخلیک په اړه څرگندونې کوي، پخوا هم هغه په افغانستان کې د مؤقت حکومت وړاندیز ورکړی و او نن هم یوځل بیا هغه داسې څه له خولې را ایستلي دي. د پاکستان صدراعظم عمران خان یو وار بیا په افغانستان کې د نوي حکومت یادونه وکړه، ویې وېیل چې پاکستان هیله لري چې د افغانستان [نوی حکومت؟!] به اجازه نه ورکوي چې هند د دغه هېواد له خاورې د پاکستان پر ضد کار واخلي.عمران خان د جرمني له شپېگل مجلې سره په مرکه کې په ۹۰ مه لسیزه کې د پاکستان له لوري د طالبانو رژیم د رسمیت پېژندلو دفاع وکړه، ویې وېیل «دا د اسلام اباد حق و چې دا دله په رسمیت وپېژني خو پاکستان پر طالبانو کنټرول نه درلود.» ده د بین الافغاني خبرو او دغه راز په دې اړه چې ممکن طالبان د جگړې له لارې واک ترلاسه کړي، ووېیل «حاضردمه هېڅوک اټکل نه شي کولی چې افغانستان کومې خوا ته روان دی، خو دا وېیلی شم چې له افغانستانه وروسته تر بل هر هېواد پاکستان په افغانستان کې د [سولې؟!] غوښتونکی دی.» له عمران خانه پوښتنه وشوه چې له گلبدین حکمتیار سره په وروستۍ کتنه کې یې د ده او طالبانو ترمنځ پر واک وېش خبرې کړې، عمران خان څه ونه وېیل. عمران خان چې خلک ورته [پښتون؟] هم وایي او په همدې مکارۍ یې غوښتل چې په ټاکنو کې بریا تر لاسه کړي، خو د پوځ او استخباراتو له خوا په جعلي توگه په ټاکنو کې بریالی اعلام او اوس د پاکستان د صدر په جامه کې پر څوکۍ ناست دی، هغه په اصل کې د پوځ او استخباراتو حکم منونکی دی، خو خپله هېڅ واک او اختیار هم نه لري، د عمران خان ټاکل او یا هم له عمران خانه مخ کې پر سترو څوکیو د پښتنو اجنټانو ټاکل یوازې او یوازې له افغانستان سره د محکوم افغانستان پر سر د شخړې غلي کولو او محکومو ولسونو اېلولو لپاره اقدام دی، خو په اصل کې هغوی بېواکه او بې ځواکه دي، بس د پوځ او استخباراتو امر منونکي دي. موږ په تېرو څو ورځو کې د افغانستان په اړه د عمران خان څو څو ډوله دریځونه اورېدلي دي. دې وروستیو څرگندونو یې د افغانانو سخت حساسیتونه را پارولي، عمران خان به هېڅ هم ونه شي کړای، لکه د هغه بادارانو چې ونه شوای کړای، عمران خان همدا رنگه تش په نامه پښتون او صدر دی، داسې چې نه پښتنوالي ته ژمن دی او نه هم په پښتو خبرې کولی شي، بس په ختېه کې یې د افغانانو پرضد دښمني اخښل شوې ده!د هغه د څرگندونو پر وړاندې د افغانانو غبرگونو بیا هم سخت او غاښ ماتوونکی دی، آن چې پر خواله رسنیو د دغه خبر په ځواک کې افغانانو هغه ته سختې سپکې خبرې کړې دي. افغانانو په ځواب کې هغه ته وېیلي: « په افغانستان کې اول نوی حکومت نه راځي؛ که راشي هم او حتی که ستا دلاک طالب یې هم په راس کې وي؛ والله که تاسو ... سره جوړه وکړي. افغانستان به هېڅکله له هند سره خپلې اړیکې پرې نه کړي. د هند ... هم پر تاسو .... شرف لري. د افغانستان د کنټرول خیال له سره وباسه. ستا د ... چې ته یې حکومت ته رسولئ یې پخوا هم دلته زور وهلی او ... اوس چې خدای او نیمه نړۍ له افغانستان سره ده، ته بې ځایه ... مه وهه. داسې نه چې ځان تر دې هم په شرم وشرموې او ... اول خو دا انسان وژنه او افغان وژنه تاسې زموږ په ولس کوئ یو وخت به دا انتقام درنه واخستل شي.» یوه بل مدني فعال د پاکستان دغه دښمنانه دریځ ته په کتو پر ولس غږ کړی: «فغان ورونه با ید وپوهېږي چه دا شدید جنگ پنجاب مخ ته وړي او زموږ سربازان شهیدان کېږي.» په هر حال اوس افغان ولس بیدار شوی او خپل دوست او دښمن ښه پېژني، په سیمه کې هندوستان د افغانستان یوازنی خوږ او مهم ستراتیژیک ملگری دی، افغانستان خپل واک او اختیار لري، چې څنگه له چا سره دوستي وکړي، خو یوه خبره روښانه ده، چې د پاکستان ملېشې اوس په افغانستان کې مخامخ جگړه کوي، د هغوی مړي په هر ځای کې پاتې وي، دا د افغانانو د مېړاندې او هېواد پالنې نښه ده، نو پاکستان دې پر داسې څرگندونو د دې هڅه نه کوي،چې گنې په دې ناوړه پالیسۍ کې به بریالي شی، له همدې امله نړدې ده چې پاکستان د ترهگرۍ او ناروا پیسو ترلاسه کولو له امله په تور لېست کې شامل شي.افغان حکومت باید د پاکستان د دغه دریځ او څرگندونو پر وړاندې معقول ځواب ورکړی،داسې ځواب چې د افغانستان لپاره اړین او ضروري دی، څکه پاکستاني دښمنان نه یوازې د افغانستان پرضد دښمنانه څرگندونې کوي، بلکې عملاً د افغانستان پرضد په مخامخ جگړه کې ښکېل دي!



## د سیمې د اقتصادي ودې لپاره د افغانستان اهمیت حیاتي ارزښت لري!

**هدایت الله نوري**

هغه پلانونه اوس پلي کېدا ته نږدې شوي، چې له مخې یې افغانستان د سیمې د سوداگرۍ پر لوی مرکز بدلېدونکی دی! سیمې او نړۍ هم منلې، چې افغانستان د سیمې د سوداگرۍ او همدا رنگه د امنیت او ثبات په برخه کې مهم او ستراتیژیک اهمیت لري، دا ستراتیژیک او ټرانزېټي اهمیت ورځ تر بلې ځلېږي او پیاوړی کېږي. دا منو چې د سیمې مغرض هېوادونه د جگړې پر مټ د افغانستان اهمیت ننگوی او نور نه پرېږدي، چې له دغه اهمیته گټه پورته کړي، خو دا جگړه اوس ټولو ته مالومه شوې، چې څومره زیانمنه او څومره خطرناکه ده، څکه د ترهگرۍ پر مټ روانه ده او دا ترهگري نه یوازې د افغانانو دښمنه ده، بلکې د سیمې اقتصادي او سیاسي هڅې هم گواښي.

د افغانستان د حکومت هڅې دا دي، چې افغانستان د سیمې د گټې وټې لپاره خپل پخوانی اهمیت یوځل بیا راژوندی کړي، دا هېواد دې نور په وچه کې را ایسار هېواد په توگه بابېځه ونه گڼل شي، بلکې د سیمې د وصل او سوداگرۍ څلور لارې په توگه دې ستر لومړیتوب ورکړل شي! په دې برخه کې له ایران سره کار شوی او دغه هېواد اوس افغانستان ته د خواف له لارې د رېل پټلیو پر مټ اقتصادي لارې غځوي، دا لارې به د افغانستان له خاورې مرکزي اسیا ته تېرېږي. همدا رنگه ایران وایي په چابهار بندر کې کارو بار د پراختیا په حال کې دي. د ایران د سوداگرۍ د برخې چارواکي وایي چې د لارو له جوړېدو او امکاناتو له برابرېدو سره په چابهار بندر کې سوداگریز فعالیتونه ډېر شوي او دغه بندر د ودې په حال کې دی.

دوی وایي همدا چې د هرات-خواف رېل پټلۍ پرانیستل شي او بیا له چابهار بندر سره وصل شي په سیمه کې به یو ستر مثبت بدلون رامنځ ته شي. ایران وایي له افغانستان سره به په دې توگه په صادراتو کې ډېروالی راشي او ترانزیت به هم ارزانه شي. ایران تمه لري چې چابهار بندر د افغانستان له لارې له مرکزي اسیا سره ونښلوي.

هو مرکزي آسیا، مرکزي آسیا د افغانستان لپاره او افغانستان بیا د ټولې آسیا لپاره حیاتي ارزښت لري، دا خبره سمه ده، چې افغانستان د اسیا زړه دی او دا زړه که فعال او آرام وي، نو ټوله اسیا فعاله او آرامه ده، دا معقوله نه ده، بلکې هغه حقیقت دی، چې اوس ټوله نړۍ پرې پوهېږي.

پاکستان به ډېر ځان ته باټ وي، چې گنې د سردار محمد هاشم خان د صدارت په وخت کې یې پر افغانستان ټرانزېټي لارې بندې کړې او افغانستان به د تل لپاره په وچه کې را ایسار وي، خو له نېکه مرغه افغانستان نه یوازې د پاکستان بدیلې لارې موندې، بلکې د سیمې او نړۍ هېوادونه هم په دې برخه کې له افغانستان سره همکار دي، د بېلگې په توگه د ایران، چین او مرکزي آسیا په شمول ټول هېوادونه په افغانستان پورې ځانونه تړلي بولي، په تېره بیا ایران او اهندوستان ته د افغانستان ټرانزېټي اهمیت حیاتي ارزښت لري، چې ځانونه پرې تر مرکزي آسیا پورې ورسوي، د مرکزي آسیا لپاره هم بیا افغانستان یوازنی ټرانزېټي مرکز دی، چې ځانونه پرې تر هند او سویلي اسیا او دغه راز ایران پورې ورسولی شي. دا د افغانستان هغه اهمیت دی، چې اوس د سیمې او نړۍ هېوادونه پرې اعتراف کوي.

لوېدیځې خپرونې ایرو اېشیا ریویو هم دغه اهمیت ته ځانگړی پام اړولی او د افغانستان ستراتیژیک مرکزیت یې د مرکزي او سویلي اسیا لپاره ستر اهمیت بللی دی. دې خپرونې په یوه لیکنه کې له منځنۍ اسیا سره د افغانستان راتلونکو اړیکو او د هغو اهمیت ته کتنه کړې ده. د دې لیکنې په سر کې لیکل شوي ؛((افغانستان د خپلې سوکاله راتلونکې لپاره باید شمال ته پام وکړي.)) د خپرونې منظور د افغانستان شمالي گاونډي هېوادونه دي.

ایرو اېشیا ریویو خپرونه لیکي، کله چې نړیواله ټولنه د افغانستان د سیمه‌ییزې حل‌لارې په اړه خبرې کوي، نو اشاره‌یې تر ډېره پاکستان ته وي. ځیني وخت په سیمه‌ییز حل کې دوی هند او چین هم شاملوي، خو تر دې وروستیو پورې په ندرت د منځنۍ اسیا یادونه کېده.

د ایرو اېشیا ریویو په نظر د دې دلیل دا دی چې ډېر په دې نه‌پوهېږي چې افغانستان په حقیقي ډول چېرې موقعیت لري. د دې خپرونې په باور افغانستان د منځنۍ ختیځ برخه نه‌دی او نه هم د منځني ختیځ په پوله کې موقعیت لري. که ټول نه‌وي نو نیمایي افغانستان په منځنۍ اسیا کې دی، نو په‌کار ده چې دا ومنل شي.

د دې خپرونې له لیکنې سره سم باید په اوږدمهال کې د افغانستان اقتصاد د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره تړلي وگڼل شي. ایرو اېشیا ریویو خپرونه وایي چې له منځنۍ اسیا او نورو هېوادونو سره د افغانستان اقتصادي اړیکې او ارتباطات د سیمې له اقتصادي سوکالۍ او ودې سره مرسته کوي. افغانان د دې مفکورې رامنځته کېدا په تمه وو، له نېکه مرغه د سیمې اقتصادي جوړښتونه او په تېره بیا د سیمه ییز همکارۍ سازمانونه او خپله د سیمې اقتصادي اړتیا چې په سوداگرۍ، پانگونې او راکړه ورکړه کې پوره کېږي، دا ټول د افغانستان اهمیت پوره کولی شي، خو د دغه اهمیت د امنیت، سولې او ثبات لپاره کار په کار دی او هغه لوري او یا ترهگري ډلې چې دا اهمیت گواښي، باید له مخې لرې کړل، د هغوی پر عمده مراکزو باید بریدونه ډېر شي او په دې برخه کې لومړی د ایران، بیا د نورو شریکو هېوادونو همکاري ډېره شي. افغانان د هغوی د همکارۍ په تمه دي او له دې همکارۍ پرته گډې موخې او گډې اقتصادي گټې نه شي پالل کېدای!

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د امریکا د ټاکنو په رارسېدو؛ د مرکزي ایالتونو پر سر د ټرمپ او بایډن لانجه

د امریکا ولسمشریزو ټاکنو ته یوازې دری ورځې پاتې دي، د دیموکراتانو او جمهوري پالو دوه نوماندان جوبایډن او ټرمپ هغو مرکزي ایالاتونو ته د رایو راټولولو په تکل تللي چې په تېرو ټاکنو کې یې د دوی هرکلی نه و کړی. جوبایډن ایوا او ښاغلی ټرمپ مینه سوتا ایالتونو ته سفر کړی.جوبایډن چې په نظر پوښتنو کې له خپل سیاله مخکې دی، تېره ورځ (اکتوبر ۳۰مه) ایوا ایالت ته ولاړ، هغه ایالت چې د ۲۰۱٦ کال په ټاکنو کې له لس سلنې اختلاف سره ډونلډ ټرمپ له هیلیري کلینټن مخکې و.ښاغلي جو بایډن په آیوا کې د ګونډ خپلمنځیو سیالیو کې له پیټ بوجچیچ، برني سندرز، الیزابېت وارن او د ګوند له نورو نوماندانو سره ونه توانېد چې سیالۍ وکړي او د دې لامل شو چې په دغه ایالت کې د ده ټاکنیز کمپاین له لویې ماتې سره مخ شي.ورسره هممهاله ډونلډ ټرمپ مینه سوتا ته له سفر سره دا وښودل چې هیله من دی چې دغه ایالت کې چې په ۲۰۱٦ کال کې له لږ اختلاف سره، چې اغلې کلنټن یې هرکلی کړی و ځان ته ورجذب کړي.د مینه سوتا مینیاپولیس ښار کې په تېرو شپږو میاشتو او د جورج فلویډ له مرګ وروسته، د پولیسو د تاوتریخوالي پر وړاندې اعتراضونه وشول او ((د تورپوستو ژوند مهم دی)) په نوم غورځنګ جوړ شو.دغلته په دودیز ډول د دیموکراتانو نوماندانو ته رایه ورکړل شوې ده. جو بایډن چې د کرونا وېروس له خپرېدا راهیسې خپل ایالتي سفرونه محدود کړي وو او د ټرمپ په څېر لویې غونډې یې نه کولې، رسمي ټاکنو ته پاتې څو ورځو کې ایالاتونو ته سفرونه پیل کړي دي.ښاغلی بایډن چې د نظر پوښتنو له مخې په ملي کچه شاوخوا له لسو امتیازو سره مخکې دی، په حساسو او هغو ایالتونو کې چې سیالۍ زور اخیستی لکه فلوریډا، پنسیلوانیا، میشیګن او ویسکانس کې شاوخوا پنځه یا له دې ټیټې سلنې سره له ټرمپ واټن لري او دې کار د سږکال ټاکنو د وروستۍ پایلې وړاندوینه سخته کړې ده.د اکتوبر ۳۰مه د جمعې په ورځ راپورونه خپاره شول چې تر اوسه ۸۵ امریکایانو د رایو مرکزونو ته خپلې رایې ورکړې دي.دا په امریکا کې د ۱۱۰ کالو په اوږدو کې له وخت وړاندې رایې ورکولو نوی ریکارډ دی او تمه ده چې د سږکال ټاکنو کې به د ګډونوالو شمېر دومره لوړ شي چې د ۱۹۰۸ کال ریکارډ به مات کړي.

د دې ریپوټونو پر اساس، له ۸۵ میلیونو رایو، ۵۵ میلیونه خلکو حضوري رایه ورکړې.ښاغلي بایډن له کرونا وېروس سره د خپل سیال ډونلډ ټرمپ مبارزه د خپلو ټاکنیزو کمپاینونو اصلي موضوع ګرځولې ده. پرون بایډن یو ځل بیا وویل: ((ډونلډ ټرمپ د تسلیمۍ سپین بیرغ پورته کړی، خو نه خلک تسلیمېږي او نه هم زه.))ده همدارنګه سومالي توکمه امریکایانو په اړه وویل: (( ډونلډ ټرمپ په بې شرمۍ سره سومالیایي کډوال چې امریکا ته د ښه ژوند لپاره راغلي او دې ایالت او هېواد ته یې خدمت کړی، له ترهګرو سره توپیروي. موږ داسې ولسمشر غواړو چې موږ ټول سره نژدې کړي نه دا چې زموږ په منځ کې بې اتفاقي راولي.))ښاغلي ټرمپ د تېرې جمعې په ورځ په مینیاپولیس ښار کې چې له ۱۹۷۲ کال راهیسې یې هېڅ یو جمهوریپال نوماند ته رایه نه ده ورکړې، خپلې کم بختۍ ته په اشاره ویلي: (( خو زه په مینه سوتا کې ډېر مینه وال لرم ځکه چې ما مینیا پولیس ښار له ناورین وژغول.))د ټرمپ اشاره د دې ښار هغو ګډوډیو ته وه چې د جورج فلویډ له مړینې وروسته رامنځته شوې او د مې په وروستیو کې د دې ښار د نارامیو د کنټرول لپاره هلته ملي ګارد ولېږل شو، خو په واقعیت کې د مینه سوتا دیموکرات والي مینیاپولیس ښار ته د ملي ګارد د ورتګ اجازه ورکړه.

## د اردوغان د کاریکاتور پر ضد سخت اعتراضونه

اروډغان دغه خبرې د چهارشنبې په ورځ (د اکتوبر ۲۸ مه) وکړې. ترکیې په همدې حال کې د حقوقي او ډیپلوماتیکو اقداماتو اعلام کړی دی. پاریس بیا د انقرې له خوا د ((ډارولو هر ډول کوښښ)) منع کړی دی.((چارلي ابدو)) د خپلې نوې ګڼې په سر کې کاریکاتور رسم کړی، د کاریکاتور په عنوان کې راغلي چې ((اردوغان)) دوه په دوه ډېر(( مسخره معلومېږي.)) د ترکیې د جمهوري ریاست ماڼۍ اعلام کړی چې د دغه ((د سپکاوي ډک کاریکاتور» پر ضد به لازم اقدامات وکړي. په خبره یې دغه کاریکاتور د



«ترکانو او اسلام سره دښمني» منعکسه کوي.په همدې حال کې د انقرې لویې څارنوالۍ د جمهوررییس د توهین په دلیل د «چارلي ابدو» د رهبرۍ څخه د تحقیقاتو د شروع کېدو اعلام کړی دی.

په خپله اردوغان ویلي چې زه د دغه توهین امیزه او شر اچونکي کاریکاتور لپاره هېڅ الفاظ نشم استعمالولای، کوم چې زما ګران پیغمبر یې په دې اندازه توهین کړی دی.اردغان وایي چې زه «ډېر خوابدی او نا امیده یم»، نه پر ما د حملې په خاطر، بلکې د حضرت محمد(ص) د توهین په خاطر.له بلې خوا بیا د راسیزم پرضد د فرانسې د حکومت نماینده، فریدریک پوتیر غواړي د «چارلي ابدو» په شخړه کې هم حقوقي اقدامات

٦مخ

## ارمنستان د امنیت او ثبات لپاره له روسیې د مرستې غوښتنه وکړه

د ارمنستان د بهرنیو چارو وزارت د اکتوبر په ۳۱مه اعلام وکړ چې د دغه هېواد لومړي وزیر، نیکول پاشینیان، د روسیې له ولسمشر، ولادیمیر پوتین څخه غوښتنه کړې چې په ارمنستان کې د امنیت د ټینګښت لپاره دې «فوري مشورې» پیل کړي. پاشینیان غواړي پوتین سره د ارمنستان سره د روسیې د مرستو پر څرنګوالي او د خپل هیواد د امنیت پر تضمین خبرې وکړي. د روسیې ولسمشر، د پاشینیان د غوښتنې په اړه څه نه دي ویلي. روسیې تر اوسه د قره باغ په جګړه کې مداخله نه ده کړې. پوتین په کراتو ویلي چې د قره باغ مسئله، د ارمنستان له امنیت څخه دفاع پورې تړاو نه لري.د ارمنستان لومړي وزیر د اکتوبر میاشتې په اولو کې هم په سیمه کې د روسي سوله ساتو ځواکونو د استقرار خبره مطرح کړې وه.په داسې حال کې چې په قره باغ کې جګړه ادامه لري، ورسره جوخت د دغې جګړې د پای لپاره سیاسي هلې ځلې هم روانې دي. تر اوسه پورې درې ځله د وژل شویو عسکرو د جسدونو د سپارلو په موخه، «بشردوستانه» اوربند شوی خو ښکېلو خواوو ډېر ژر نقض کړی دی. ارمنستان او آذربایجان د مینسک ډلې په چوکاټ کې د اکتوبر ۲۹مه توافق وکړ



چې دواړه هېوادونه به ملکي سیمې نه بمباروي. خپلواک خبریال، جیحون آشیروف چې د قره باغ له جګړې رپوټونه ورکوي پر ټویټر لیکلي چې دغه توافق د مینسک ډلې په غونډه کې د شپږ تر اووه ساعته مذاکرو په پایله کې ترلاسه شو.د مینسک ډله د «اروپا د همکارۍ او امنیت سازمان» له خوا په کال ۱۹۹۲ کې د قره باغ غرنیزه سیمه د سوله ییز حل په هدف جوړه شوه. د دغې ډلې مشري روسیه، فرانسه او امریکا پر غاړه لري. د دغو درېیو هېوادونو سربېره، سپینه روسیه، جرمني، ایټالیا، پرتګال، هالند، سویډن، فنلند، ترکیه، ارمنستان او آذربایجان هم د مینسک ډلې غړي دي.خو دغه ډله د شاوخوا درېیو لیسیزو په تېرېدو بریالۍ شوې نه ده چې په قره باغ کې تل پاتې سوله رامنځ ته کړي. روانې جګړې د سپتمبر میاشت په وروستیو کې زور اخیستی. په دغو جنګونو کې له ۱۲۰۰ ډېر کسان مړه شوي، خو پوتین بیا د دواړو خواو ته د اوښتو ځاني تلفاتو شمېر له ۵۰۰۰ هم ډېر بللی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیواد
دوشنبه د لړم ۱۲ مه ۱۳۹۹ ل کال • د ربیع الاول ۱۶ مه ۱۴٤۲ ق • د نومبر ۲ مه ۲۰۲۰ کال • خصوصي گڼه ۱۷۲ • پرله‌پسې ۴۹۵۸ مه گڼه






# د القاعده او طالبانو تر منځ ارتباط څه دی؟

د ملگرو ملتونو څارونکې ډلې یوه همغږونکي، ادمون فیتون، ویلي چې القاعده لاهم خپلې پوځي او روزنيزې چارې له طالبانو سره په گډه ترسره کوي.د ملگرو ملتونو دغه چارواکي له بي بي سي سره خبرو کې ادعا کړې، سره له دې چې طالبانو د دوحې په تړون کې ژمنه کړې چې له القاعدې او نورو ترهگريزو ډلو سره اړيکې پرې کوي، خو دا ډله لاهم له القاعده سره اړيکې پالي. افغان کتونکي دې مسئلې ته له بېلابېلو زاويو گوري.سياسي شنونکي محب الله زهير دويچه ويله ته ويلي، تراوسه هم داسې نښې نښانې نه دي موندل شوې چې طالبانو دې له القاعده سره خپلې اړيکې پرې کړې وي.ښاغلي زهير څه موده وړاندې د غزني په اندړو کې د القاعده شبکې د يوه مشر وژلو ته اشاره وکړه: ((ابولحسن المصري د هند په نيمه وچه کې د القاعده شبکې لومړی درجه مشر و. دی د غزني د اندړو په هغه سيمه کې ووژل شو چې د طالبانو تر ولکې لاندې ده.))زهير وايي، طالبان هڅه کوي چې القاعده سره خپلې اړيکې پټې وساتي، خو شرايطو ته په کتو دا ډله نه شي کولای چې د القاعده او نورو ډلو سره په پټه اړيکې وپالي.ده وويل، چې د طالبانو تر ولکې لاندې سيمو کې تر ۴۰۰ پورې د القاعده جنگياليو د شتون رپوټونه اوس هم شته.طالبانو تراوسه د ملگرو ملتونو وروستي خبرداري ته غبرگون نه دی ښودلی، خو افغان حکومت تل ټينگار کړی چې دا ډله د سولې خبرو ته ژمنتيا نه لري.سياسي شنونکی فهيم صديقي بيا وايي، د طالبانو او القاعده ترمنځ اړيکو افغانان اندېښمن کړي. ((که چېرې موږ د دې شاهد واوسو چې د سولې بهير پرمخ ولاړ شي، طالبان او حکومت هوکړې ته ورسېږي خو نورې ډلې شته چې د افغانستان، سيمې او نړۍ هېوادونو امنيت ته گواښ پېښوي او ددغو ډلو ريښه به هم افغانستان کې وي. چې دا لويه اندېښنه ده.))دغه امريکا ميشتی افغان شنونکی هم پردې باور دی چې اسناد او شواهد په ډاگه کوي چې القاعده او طالبان لاهم خپل منځي اړيکې پالي.دا څرگندونې داسې مهال دي چې د قطر پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت پلاوي لاهم د خبرو د رسمي پيل لپاره د يوې کړنلارې په جوړولو نه دي توانېدلي.وروستي رپوټونه وايي، چې د دې کړکېچ د حل لپاره اوس د قطر حکومت غواړي منځگړتوب وکړي. له دې وړاندې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړي استازي زلمي خليلزاد خبرداری ورکړ، چې د سياسي جوړجاړي لپاره اوسنی فرصت به د تل لپاره نه وي.

اسماعيل شاکر – کابل

# د کندهار ښار اوسېدونکي: د ارغنداب جگړې د کندهار امنيت خراب کړی

د کندهار ښار اوسېدونکي وايي، کاروبار يې د پخوا په پرتله لږ شوی، امنيتي وضعيت خراب او د خپلې راتلونکې په اړه اندېښمن دی.د دوی په خبره، د دولت پام ټول پر ارغنداب ولسوالۍ ور ټول دي او دوی هر وخت په ځانگړي ډول د شپې له خوا سخت په ډار کې وي چې خدای مه کړه وسله وال طالبان کندهار ښار ته داخل نه شي.د ميرويس مينې اوسيدونکی معلم محمد ولي وايي چې خلک سخت اندېښمن دي چې هسې نه د ارغنداب جنگ ښار ته را اوړد نه شي چې بيا يې ژر مهارول اسانه کار نه وي. هغه دويچه ويله ته ويلي: «د شپې لخوا سخت ډارېږو، تاسو باور وکړئ، ډېر وخت شپه په وېښه تېروم او اندېښمن يوو چې که طالبان ښار ته راغلل نو بيابه چېرې ځو، ايا ژوندي به پاتې شو؟))کندهار ښاريان په داسې حال کې د يوې مبهمې راتلونکې په اړه فکر کوي چې په وروستيو کې له جمعې لمانځه وروسته ديني عالم، د کندهار د استناف څارنوالۍ مځکنی رييس او مدافع وکيل مولوي شبيراحمد قيومي د ناڅرگندو وسله والو له خوا ووژل شو.د کندهار امنيتي مسوولين وايي چې پوليسو هم له غلچکي بريدگرو يو تن وژلی او بل له سيمې تښتېدلی دی.له يوې اوونۍ راهيسې وسله وال طالبان کندهار ښار ته د تر ټولو نژدې ولسوالۍ ارغنداب کې يو شمېر کليو ته ننوتلي دي.د عيني شاهدانو په قول، طالبانو ځينې ټول امنيتي ځواکونو په پوره همږغۍ په «احتياط» چانيز پوځي عمليات ځکه کوي چې په خبره يې وسله والو طالبانو د خلکو په کورونو کې سنگرونه جوړ کړي دي.د بارکزي په خبره بيا هم يو شمېر لاسته راوړنې لري او ځينې سيمې يې د وسله والو له شتونه د هغوی په مرگ ژوبلې سره پاکې کړي دي.د يادي جگړې



امنيتي پوستې او قرارگاوې هم نيولي دي.د کندهار د امنيه قومندانۍ وياند جمالناصر بارکزي دويچه ويله ته ويلي، له امله په لسگونو کورنۍ له خپلو مېنو بېځايه شوې او دا مهال د کندهار ښار په بېلا بېلو ناحيو کې اوسېږي.

# دشمنان افغانستان هر روز به کشـــتار مردم بی گناه ادامه میدهند

طـی رزو هـای اخیـر شـاهد بودیـم که حـدود ۲۷ تـن از اطفـال نوجوانـان و جوانان معصوم و بی گناه در مرکز کورس آموزشـی کوثر دانش در ناحیه سـیزدهم شـهر کابل توسـط یک مهاجم انتحاری بـا مواد انفجاری شـهید وبیش از ۷۷ تن دیگر زخمی شده اند. این اولین و آخرین بارنیسـت که دشـمنان مردم افغانستان دسـت به شـهید سـاختن مردم بی گناه مظلـوم میزنند. باوجـود اینکه هیت های مذاکره کننده دولت افغانستان و طالبان در قطـر بیش از یکماه میشـود که بر سر طرزالعمـل مذاکـرات رایزنـی میکننـد و تـلاش هـای پاکسـتان نیز بـرای حل اختلاف ها تـا کنون نتیجه نداده اسـت . امـا طالبان همـه روز حملات خویش را بـالای مردم بی گناه و بی دفاع انجام می دهند قرار گزارشهای در ۲۸ ولایات کشور طالبان همه روزه بالا پوسته های امنیتی کشـور حملات خود را اجـرا میکنند . در مقابـل نیـرو های دفاعی کشـور ضربات کوبنده را علیه دشـمنان مردم افغانستان وارد ساختند. باز هم دیده میشود که این گـروه همواره به جنـگ و افزایش حملات انتحـاری ادامه داده انـد وصدای صلح و مذاکره که خواسـته دولـت و مردم صلح دوست این کشور اسـت در گلویش خفه سـاخته ، همچنان بـا ادامـه این جنگ خانماسـوز هسـت، بـود و آرامـش مردم مظلـوم مـا را نابود سـاخته بـه آن ادامه میدهند. حالا سوال اینجاست که طالبان و آنانیکه بـه گونه های مختلف با دولت و علیه مـردم افغانسـتان قرار گرفتـه اند. همیشـه تبلیغ می نماینـد که هدف آنان دفاع از مردم مظلوم وبی دفاع افغانستان اسـت، پس چرا حملات انتحاری را بالای مردم مظلوم مـا اجرا میکنند. هر زمانیکه صدای مذاکره صلح و تفاهم بلند میشود برعکس از جانب مخالفین دولت حملات مسلحانه آنان افزایش یافته همین اکنون در ولایـت هلمند هـزاران خانواده در بی خانمان سـاخته است و مردم در وضعیت بـدی به سر میبرند، و از روند گفتگو های صلح نا امید شـده اند. بـا جود این حالا مردم خطاب به مخالفین مسلح و عاملان این گونـه جنایات می گوینـد اگر ایمان دراید ، اگر مسـلمان هستید و اگر افغان هسـتید خوشـی هـای مـردم را در ماتم نسـازید این در حالیست که دین مقدس اسلام قتل یک انسـان را بی موجب قتل بشریت دانسته و به عاملان آن عذاب درد ناک الهی داده اسـت . اما متاسفانه این گونه اعمال در کشـور ما از سوی کسانی انجام مشـود که در ظاهر برای اسلام گلو پاره مـی کنند و در میدان عمل ، به آنچه میکنند تاریخ از بیان آن می شرمد. مردم افغانسـتان حالا بـا تمام دسیسـه های شیکانی و مکارانه و دشمنان

ص٦

(c) ketabton.com: The Digital Library




# معرفی کتاب (( افغانستان، مردم، تاریخ و سیاست))

گسترده گی مسایل، نگرش بر آن ها را چند بُعدی می سازد. به دلایل مختلف، درگیری امروزی، به هر نوعی که باشد، مستلزم آگاهی هاییست که باید با وقوف بر جوانب مختلف، ارائه شوند.

به باور من، آنچه ما را در تقابل طولانی قرار داده، افزون بر جنبه فزیکی، دوام روحیات آن است. تحت تاثیر جریان مستمر ستیزه گر که تغییر ماهیت می دهد و با استعانت از کارت های مختلف، بازی می کند، مردم ما در چهار راه حوادث، نمی توانند به درستی تصمیم بگیرند.

من در حدود دو دهه، ناظر تنازعی بوده/ وهستم که اذهان بخش بزرگ جامعه افغانی را اشغال کرده است. شوربختانه، بار منفی ذهنیت سازی، همیشه بر طرف مثبت، سنگینی می کند. با این حال، تلاش برای بیرون رفت، یافت راه حل و واکنش های به موقع، جز فرهنگ سازی هایی به شمار می روند که طیف نخبه گان حامی منافع ملی، با نگرانی و دقت، منظور می کنند.

افغان های زیادی را می شناسیم که مصرانه فعال اند. در این میان، شماری با اشراف بیشتر، محور هایی را ایجاد کرده اند که دکتور نور احمد خالدی را می توان یکی از مهمترین آن ها برشمرد.

در فضای مجازی افغان ها، اصرار مدام دکتور خالدی به خاطر تحفظ منافع ملی، او را در جایی قرار داده است که اگر حامیان نظرات نیکش را منفی کنیم، مواجهه با طرف های مخالف که عموماً میانه ای با ارزش های اخلاقی ندارند، آسان نیست.

می دانیم که اگر ساده ترین ادعا نیز بی پاسخ بماند، تابو می شود. بنا بر این، استقامت و تحمل قابل ستایش داکتر خالدی، در زمینه ی گسترده گی مسایل، چند بُعدی رونما می شوند. ارائه معلومات همه جانبه، از مواردی است که در محور های همه شمول، وضاحت دارد.

کتاب «افغانستان، مردم، تاریخ و سیاست»، اشراف عمیق داکتر خالدی در زمینه ایست که او را ناگزیر می کند در تنازع بی امان حفظ کشور، در برابر مخالف و موافق، پاسخ بگوید.

در کتاب «افغانستان، مردم، تاریخ و سیاست»، ویژه گی چند بُعدی در زمینه گسترده گی مسایل، ارزش آن را بیشتر می سازد. چنانچه یادآوری کردم، پیچیده گی مسایل مورد منازعه، ایجابات درک همه جانبه را دارند. بار ها اتفاق افتاده که مخالفان منافع ملی، با تداخل برداشت های دلخواه تاریخی- فرهنگی، با مهارت هایی که بیشتر از نظر عوام می افتند، پرستیژ واحد سیاسی افغانستان را خدشه می زنند. در چنین مواقعی، بسیار اتفاق می افتد که در خلای ایجاد شده، منظور مخالفان، برآورده شده است. ریفرنس بیش از حد به گذشته هایی که جزو مقوله جیوپولیتیک نیستند، مسئله ای نیست که مردم به آسانی درک کنند. خلط مفاهیم بی مرز(خراسان) با خلط مفاهیم مرزی(افغانستان) از مثال های بارزیست که فقط طرف هایی می توانند در زمینه آن ها حکم صحیح بدهند که در تنازع سیاسی، آگاهی های قابل ملاحظه فرهنگی و تاریخی داشته باشند.

کتاب «افغانستان، مردم، تاریخ و سیاست» با ویژه گی اشراف به عمق و تبیین تاریخی- فرهنگی، یک تالیف پُرارزش افغانیست که در این نوع، نمونه زیاد ندارد. با وجودی که در تنازع دفاع از مملکت، اکثراً شعارگونه عمل کرده ایم، اما معدود محور های واقف بر گسترده گی مسایل، مردم را در سنگر هایی متحد ساخته اند که اگر به دلایل مختلف، نتوانسته بودند به درک نصابی، اجندایی و ستراتیژیک دانش برسند، افغان هایی وجود دارند که با اصرار بیش از حد، آنان را روشن ساخته اند.

این مسئله نیز اهمیت دارد که چه مفاهیمی باید حفظ شوند. افزون بر تقبل طرف شدن با خصومت هایی که با تمام امکانات دشمنان، تجهیز می شوند، توحید موجود غنی فرهنگی به گونه کتاب، هرچند تحمیل بیش از حد است، اما شاید نهایت صبوری کسانی را هم تبارز دهد که مایل هستند تلاش های مدام شان، مقطعی نباشند.

این چندمین کتاب دکتور خالدی، به معنی حفظ فرهنگ سازی هایست که اگر در بحران کنونی، جلو برویم، رجوع به آن، ماخذ معتبر می شود تا با درک مسایلی که افغان های آگاه در نیم قرن اخیر از نزدیک آن ها را تجربه کرده اند، ریشه شناسی مشکلاتی هم میسر باشد که در مسیر سیاسی، ناگزیر باید بشناسیم. درک این نکته که مشکلات سیاسی ما ریشه دار شده اند، اهمیت آثاری را بیشتر می سازد که علیه آن ها، فرهنگ سازی کرده اند.

کتاب «افغانستان، مردم، تاریخ و سیاست»، چنانی که از نامش پیداست، یک پرداز چند منظوره است. در واقع خلط چند پدیده در چند مقوله که هر کدام جداگانه باید تبیین شوند، نمایانگر این حقیقت است که رو آوردن به تنازع، چنانی که بتواند موثر باشد، نیازمند اشراف بر آگاهی های همه جانبه است. موثرترین فرهنگ سازی های ما علیه مخالفان، به آثار روشنگری برمی گردد که همه جانبه ارائه شده اند.

افغان هایی که در قبال منافع ملی، احساس مسوولیت بیشتر دارند، چنانی که امتحان داده اند، تا اخیر مواظب خواهند بود، اما مهم است که تاملات آنان حفظ شوند. حفظ تاملات ملی که روی منطق، آگاهی، نگرش ژرف و درک حساسیت ها استوار باشد، یک فرهنگ جامع است که اگر هم منوط به زمان و مکان باشد، پایه هایی می شود که با اطمینان می توان روی آن ها پرچم حیثیت و افتخار را به اهتزاز در آورد.

**مصطفی عمرزی**

## جمهوررييس غني د يو شمېر وزارتونو او ادارو د ۱۴۰۰ مالي کال د ملي بودجې...

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهوررييس محمد اشرف غني پرون له غرمې مخکې په جلا غونډو کې د ۱۴۰۰ مالي کال ملي بودجې طرحې د څرنګوالي او وړاندیزونو په اړه له يو شمېر وزارتونو او خپلواکو ادارو سره خبرې وکړې.د فواید عامې وزارت، د ښار جوړولو او مځکو وزارت، ملي دفاع وزارت، برېښنا شرکت، باختر افغان الوتنه شرکت او د ماليې وزارت مسوولینو د ۱۴۰۰ مالي کال ملي بودجې د تخصیص او خپلو برنامو په اړه طرحې او راپورونه جمهوررييس ته وړاندې کړل.جمهوررييس وویل: د فواید عامې وزارت باید د ساختماني پروژو د ښه تطبیق لپاره ظرفیتونه پیدا او یاد وزارت خپل اصلي مسوولیت ته، چې د لویو ملي پروژو عملي کول دي، ور وګرځي او د افغانستان حلقوي سړک، د غور سړک او جلال آباد سړک ته لومړیتوب ورکړل شي .جمهوررييس یاد وزارت ته لارښوونه وکړه، چې لويې ملي پروژې باید د يو څو شرکتونو له انحصار څخه ،چې په کارونو کې پاتې راغلي، د شفافیت تضمین نه شي ورکولی او د خلکو پیسې يې ضایع کړي، وایستل شي او محروم دې شي.جمهوررييس وویل: د ښارجوړولو او مځکو وزارت تول تمرکز باید په کور جوړولو، د پنځو لویو ښارونو د انکشافي پلان په عملي کولو او د کیفیت ښه کېدو لپاره په ولایتونو کې د خپلو رياستونو په ارزونې وي، چې د بودجې په مصرف کې مؤثریت نور هم زیات شي.جمهوررييس ټينګار وکړ، چې برېښنا شرکت باید د امنیتي او دفاعي ځواکونو تاسیساتو ته د اړتیا وړ برېښنا په اړه، چې څنګه او کله يې برابرولی شي، له ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو سره یوه طرحه شریکه کړي.

د هېواد جمهوررييس په ټينګار سره وویل دولتي بنسټونه باید په باختر افغان الوتنه شرکت پانګونه وکړي.محمداشرف غني، د عوايدو راټولولو او په ګمرکونو کې د عوایدو د ضايع کېدو مخنيوي او فساد سره د جدي مبارزې په اړه ماليې وزارت ته لازمي لارښوونې او د سیستمونو د اصلاح کولوټينګار وکړ.

جمهوررييس وویل: د عوايدو د زیاتوالي او د ځان بسیاینې لپاره دې د کانونو امنیت او د هوايي ډګرونو عوايدو او صنعتي پارکونو ته جدي توجه او په ولایتونو کې د انکشافي زونونو په تاسیساتو اساسي کار وشي.

دوشنبه د لرم ۱۲ مه ۱۳۹۹ ل کال ● د ربیع الاول ۱۶ مه ۱۴۴۲ ق ● د نومبر ۲ مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي ګڼه ۱۷۲ ● پرله پسې ۴۹۵۸ مه ګڼه
هیواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کندهار به د وسلوالو طالبانو ...

ارغنداب ولسوالۍ په اړه وایي، د کوهک او نګهان په سیمو کې هم د افغان امنیتي ځواکونو له لوري ٦۴ وسلوال طالبان وژل شوي او ۲۰ یې ټپیان دي .بارګزی زیاتوي ،وسلوالو طالبانو د یادو سیمو څخه ټول ځای خلګ شړلي او د کورونو څخه یې د جګړې سنګرونه جوړ کړي او له عامو خلکو څخه د خپل دفاعي سپر په توګه کار اخلي.بارګزي ویلي ، د کندهار ټول امنیتي او دفاعي ځواکونه چمتو دي، چې د خپل هېواد او خلکو څخه د ساتنې او د ولسي مرګ ژوبلې د مخنیوي په موخه په جګړه کې په ډېر احتیاط او په مهارت مخته تګ وکړي.د هلمند روانه جګړه تر کندهاره ورسیده په دې جګړه کې ډېر افغان ځواکونو وسلوالو طالبانو او ملکې وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې .د یادوني وړ ده چې څو ورځي وړاندې د کندهار په یو شمېر ولسوالیو کې د وسلوالو طالبانو له خوا پر امنیتي پوستو بریدونه پیل شول، چې لاهم په یادو ولسوالیو کې جګړه راوانه ده .

## د اردوغان د کاریکاتور پر ضد...

تر سره کړي. هغه د ترکیې د کلتور د وزیر د مرستیال، سردار جیم هغه تویت ته اشاره کوي چې د«چارلي ابدو» د تحریر هیئت غړي یې د اردوغان د کاریکاتور په دلیل حرام زاده ګان او د سپي زامن بللي وو.د فرانسې د حکومت ویاند، ګابریل اتال بیا ویلي،چې فرانسه به «د بې ثباته کولو او ډارولو پر مختلفو کوښښونو» سربېره هېڅ وخت د خپلو «پرنسیپونو او ارزښتونو» څخه تېر نه شي. په خبره یې دا خاصتاً د عقیدې او بیان د ازادۍ لپاره ډېر اعتبار لري.له بلې خوا بیا په ډېرو اسلامي هېوادونو کې د فرانسې پر ضد احتجاجونه شوي دي. د ایران جمهورریيس حسن روحاني اخطار ورکړی،چې په کاریکاتور کې د اسلام د پیغمبر مسخره کول کېدلای شي «تشدد رامنځته او وینې تویې شي.» هغه په یوه ټلوېزیوني بیانیه کې ویلي ،چې د پیغمبر توهینېدل یو «غیر اخلاقي عمل» دی.په ډېرو عربي هېوادونو کې هم د اسلام د پیغمبر د کاریکاتورونو پرضد سخت انتقادونه رامنځته شوي دي. په اکثرو هېوادونو کې پر فرانسوي محصولاتو تحریم لګېدلی دی او له دوکانو او مغازو یې مالونه لېري شوي دي.

## له چابهار ســره د رېل پټلۍ نښلول...

،چې د سږکال په لومړیو شپږو میاشتو کې،څه باندې دوه نیم زره لاریو،سوداګریز توکې د افغانستان له لارې منځنۍ آسیا ته ټرانزېټ کړی، چې د تیر کال ورته مودې په پرتلې سره،اولس سلنه زیاتوالي ښیي. دا راپور پر داسې مهال خپرېږي ،چې موده وړاندې له پاکستان سره د افغانستان د راکړې ورکړې او ټرانزېټ د کمښت یادونه شوې وه او ویلي شوي وو، چې ٦۰سلنه دا سوداګري کمه شوې

## دشمنان افغانستان هر روز ···

ملت بزرگ افغا کاملا آشنا شده خوب میدانند که گردانده گان تمامی سیاست ها وعملکرد های گرو ، طالبان و سایر مخالفین دولت افغانستان همانا سازمان های استخباراتی کشور های همسایه و منطقه بوده رهبری این گروه مانند طالبان ، شبکه حقانی و داعشیان ، بدون اطاعت از اوامر و دساتیر سازمان هیا استخباراتی منطقه هیچ اختیاری از خود نداشته همواره دساتیر اوامر و پلان های شوم آنهار بدون در نظر داشت اینکه سود زیان این گونه فعالیت هیا تخریبی شان به مردم مسلمان افغانستان چی خواهد بود سازماندهی عملی واجرا می نمایند. بدون شک آشکار است که رهبران اصلی و فرمانروا های واقعی این گروه ها مولانا های بنیاد گر و رهبران این جهت است که طالبان هیچگاهی نمی توانند تن به صلح و ثبات دهند به جنگ و شهید ساختن مردم بی گناه و بی دفاع افغانستان ادامه میدهند. در اخیر باید گفت که مردم مسلمان ما از آنعده طالبان افراد مسلح ایکه به گونه های مختلف فریب دشمن بخصوص دشمنان اجنبی را خورده دست به اعمال غیر اسلامی و غیر انسانی میزنند. میخواهند به صدای صلح که فعلاً جریان دارد لبیک گفته بیشتر از این زنان، مردان اطفال و نوجوانان در شیهد نسازند، در غیر آن بدبختی دنیا و عذاب آخرت نصیب آنان خواند شد.

**میر مسجدی عزیزی**

# افغان اعلانات

د داوطلبۍ اعلان

افغاني خیریه ټولنې مؤسسه- OAWS غواړي یوه پایه جنریټر د لاندې ځانګړتیاوو په درلودلو سره وپېري:

ماډل: Model: PERKINS P33، د انګلستان جوړ.

KVA / 26 KW Standby power 33

KVA / 24 KW Prime power 30

Volts, Three Phase, 1500 RPM 220/380

هغه شرکتونه، چې په دې برخه کې لېوالتیا لري، خپل نرخونه (کوټېشنونه) دې د اعلان د خپراوي له نېټې څخه تر یوې اوونۍ پورې د OAWS مرکزي دفتر ته وسپاري. شرطپاڼه کتلای شي، تضمین اخیستل کېږي. اړیکه:

oaws2015@gmail.com - 0202563669

لومړی کور، 3مه کوڅه، سپین کلي څلور لارې جنوب، خوشحال خان مېنه، کابل

4943

************

محترم وحیدالله ولد محمداعظم مالک دواخانه المهدی حسینی واقع ناحیه ششم ولایت کابل ملکیت عنوانی این اداره عارض وخواهان تغییر اسم درملتون خویش از المهدی حسینی درملتون به وحید عمر بارکزی درملتون گردیده است اشخاص موسسات و دوایر دولتی که بالای درملتون مذکور ادعای داشته باشد از تاریخ نشر اعلان الی مدت سه یوم به این اداره واقع چهاراهی شهید هنگرها ناحیه چهارم شهر کابل اطلاع دهند.۴۹۸۳

************

به اطلاع اسامی باقی ولد صفر ولدیت نورقل ساکن قلعه غازی ها ناحیه چهارم فعلا مقیم خارج از کشور شوهر مسمات سیلما بنت بابه تشبیه رسانیده میشود که هرگاه جهت حل و فصل موضوع نسبتی اش الی مدت سی روز به دیوان هذا حاضر نگردد فیصله غیابی صادر گردیده حق شکایت را ندارد.۴۹۸۵

************

یک قطعه کارت هویت وکالت دفاع شماره ۳۵۸۲ مورخ ۲۵/۸/۱۳۹۸ مربوط محترمه مسعوده فرزند محمد شریف که شماره متذکره نیز درج آن میباشد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۴۹۸۸

************

ریاست دیوان رسیدگی به قضایای تجارتی الف به

اطلاع اسامی شفیق الله ولد صفی الله باشنده خیرخانه مربوط ناحیه یازدهم کابل که تحت ادعای اسامی دلاورخان ولد بازمحمد قرار دارد میرساند هرگاه نامبرده الی مدت ۲ ماه غرض تعقیب دوسیه نسبتی اش به این محکمه حاضر نگردد درغیاب شان تصمیم اتخاذ انگاه حق شکایت را ندارد.۴۹۹۱

************

جواز کار اتباع خارجی دارای نمبر ۴۴۵۷۹ به اسم شرخان خلیل خلیل مفقود گردیده اعتبار ندارد.۴۹۹۵

************

اوراق دعوی حقوقی مسجدی ولد محمد کبیر علیه عبدالرحمن ولد عبدالکریم در رابطه به مطالبه پول که تحت بررررسی هیات قضایی این دیوان قرار دارد از اینکه مدعی علیه مذکور با وجود جلب های متواتر غرض پیشبرد دعوی حقوقی خویش حاضر این دیوان نگردد بنا به اطلاع اسامی عبدالرحمن ولد عبدالکریم باشندده سرکوتل واقع ناحیه هفدهم رسانیده میشود که هرگاه تا مدت پانزده یوم جهت پیشبرد دعوی خویش بریاست دیوان مدنی محکمه ابتداییه حوزه چهارم شهر کابل حاضر نگردد فیصله غیابی صادر گردیده حق شکایت را ندارد.۴۹۹۹

************

اسامی شرکت خالد عمر یک عراده موتر تیوتا کرولا پلیت ۱۶۱۷۱ ش کابل انجن ۴ای۰۰۴۸۴۷۳ و شاسی تی ۱۷۲۱۰۰۱۳۹۳۹۰ را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای اسامی محمدعثمان ولد غلام سرور بفروش می رساند. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۴۹۹۹

************

به اطلاع دریاب فرزند نقیب الله، سیلاب فرزند محمدهارون و سمیع الله فرزند امان الله متهمین قضیه کیسه بری میرسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده روز به دیوان امنیت عامه، محکمه حوزه اول غرض فیصله دوسیه نسبتی خویش حاضر شوند، در غیر آن فیصله غیابی صادر می گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.۵۰۰۳

************

به اطلاع عبدالله فرزند محمد ابراهیم متهم قضیه لت و کوب و آزار و اذیت می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی 10یوم به محکمه ابتدائیه رسیدگی به جرایم خشونت علیه زنان غرض فیصله دوسیه نسبتی خویش حاضر شوند، در غیر آن فیصله غیابی صادر می گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.۵۰۰۲

************

به اطلاع رضاخان فرزند دوست محمد، عبدالستار فرزند حاجی عبدالغفار و احمدضیا فرزند احمدشاه متهمین قضیه تزویر میرسد؛ تا سر از نشر اعلان الی 10 یوم به محکمه ابتدائیه حوزه اول شهرکابل غرض حل دوسیه نسبتی خویش حاضر شوند، در غیر آن فیصله غیابی صادر می گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.۵۰۰۱

************

به اطلاع مرتضی فرزند غلام محمد متهم قضیه حیازت سلاح غیرقانونی می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده یوم به دیوان امنیت عامه، محکمه ابتدائیه حوزه اول غرض حل دوسیه نسبتی خویش حاضر شوند، در غیر آن فیصله غیابی صادر می گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.۵۰۱۰

************

به اطلاع محمدنعیم فرزند محمدصادق متهم قضیه حیازت سلاح غیرقانونی می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده یوم به دیوان امنیت عامه، محکمه ابتدائیه حوزه اول غرض حل دوسیه نسبتی خویش حاضر شوند، در غیر آن فیصله غیابی صادر می گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.۵۰۰۹

************

به اطلاع نقیب احمد فرزند عبدالقادر متهم قضیه مواد مخدر می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده یوم به محکمه ابتدائیه حوزه اول غرض حل دوسیه نسبتی خویش حاضر شوند، در غیر آن فیصله غیابی صادر می گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.۵۰۰۸

************

به اطلاع محمدباقر فرزند محرم علی حمل سلاح غیر قانونی می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده یوم به دیوان امنیت عامه، محکمه ابتدائیه حوزه اول غرض حل دوسیه نسبتی خویش حاضر شوند، در غیر آن فیصله غیابی صادر می گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.۵۰۰۷

************

به اطلاع محمد عظیم فرزند محمدنذیر متهم قضیه مواد مخدر می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده یوم به محکمه ابتدائیه حوزه اول غرض فیصله دوسیه نسبتی خویش حاضر شوند، در غیر آن فیصله غیابی صادر می گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.۵۰۰۶

************

به اطلاع جمال الدین فرزند بهاوالدین متهم قضیه قتل می¬رسد؛ تا سر از نشر اعلان الی ده یوم به محکمه استیناف غرض حل دوسیه نسبتی خویش حاضر شوند، در غیر آن فیصله غیابی صادر می گردد، آنگاه حق شکایت را ندارند.۵۰۰۵

************

ریاست محکمه ابتداییه تجارتی الف ولایت کابل به سمع اسامی داکتر مارک داکتر سلیمه مایار مدعی علیه مذکور باشنده ناحیه نهم شهر کابل تحت ادعای اسامی علی اکبر مدعی مذکور در مورد مطالبه پول دراین محکمه قرار دارد میرساند هرگاه نامبرده الی مدت ۲ ماده غرض تعقیب دوسیه نسبتی اش به این محکمه حاضر نگردد درغیاب شان تصمیم اتخاذ گردیده حق شکایت را ندارد.۵۰۰۴

************

ترجمه انگلیسی تولد کارت به اسم ماریه بنت زلمی شیرزاد مفقود گردیده اعتبا رندارد.۵۰۱۴

************

ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی به اسم ماریه بنت زلمی شیرزاد مفقود گردیده اعتبار ندارد.۵۰۱۵

+++++++++++

ریاست محکمه ابتداییه تجارتی الف ولایت کابل به سمع اسامی خیرمحمد وندامحمد مدعی علیهم مذکوران باشنده گان

Dubai UAE Near Kuwaiti Mosque Gold Soukal Daghaya Building -262 Deira Shop No 4&5

دارنده تلفون نمبر

+۹۷۱۴۲۲۶۸۸۷۴و۹۷۱۵۰۲۰۴۹۲۹۷ +ایمیل آدرس

Nedan999@gmail.com

تحت ادعای عبدالواسع وکیل علی محمد ولد یارمحمد در مورد مطالبه سهم از نصوار کولیپ هندی شرکت نصیب آریا میرساند که هرگاه نامبرده الی مدت ۲ ماه غرض تعقیب دوسیه نسبتی شان به این محکمه حاضر نگردد درغیاب شان تصمیم اتخاذ آنگاه حق شکایت را ندارد.۴۹۷۹

دوشنبه د لړم ۱۲ مه ۱۳۹۹ ل کال ● دربیع الاول ۱۶ مه ۱۴۴۲ ق ● د نومبر ۲ مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي ګڼه ۱۷۲ ● پرله‌پسې ۴۹۵۸ مه ګڼه

# نور احمد لکنوال د لومړي ځل لپاره په (( بېګباش )) سیالیو کې لوبېږي

د افغانستان کرکټ د ۱۹ کلنو لوبډلې سپېنر باولر یا سلو توپ اچوونکی نور احمد لکنوال د لومړي ځل لپاره د استرالیا کرېکټ په «بېګ باش» سیالیو کې لوبېږي.نور احمد لکنوال له ازادۍ راډیو سره په خبرو کې وایي، د نړۍ سترو لیګونو کې لوبېدل د هر افغان لوبغاړي ارمان دی او ده هم دا ارمان په زړه کې پاللی و.لکنوال زیاتوي: ((له «ای‌پي‌اېل» وروسته په بېګ باش کې چې د نړۍ یو له سترو لیګونو څخه دی او په دې لیک کې زما لوبېدل زما لپاره ډېر د خوشحالۍ ځای دی، زما لوی ارمان دا



دی چې د افغانستان په ملي ټیم کې ولوبېږم او د دې لپاره هڅه کوم، که کله هم په دې لیګ کې راشد او نبي لوبېدل ما له ځان سره دا احساس کاوه چې افغانان که هڅه وکړي حتماً دغه ځای ته رسېدلی شي.))
لکنوال وایي، هڅه کوي د افغانستان نوم د نړۍ په ګوټ ګوټ کې وځلوي.دوې ورځې وړاندې د استرالیا د کرېکټ لیګ (بېګ باش) د ملبورن لوبډلې اعلام وکړ چې نور احمد لکنوال به سږ کال په دې لیګ کې د یادې لوبډلې سره لوبېږي.نور احمد لکنوال په ۲۰۰۵ ز کال کې زېږېدلی او د ۱۵ کلونو په عمر دی.د افغانستان کرېکټ بورډ، په بېګ باش سیالیو کې د نور احمد لکنوال لوبېدل د افغان کرېکټ راتلونکي نسل ته یو ښه پیغام بولي.د دې بورډ د کرکټ د تخنیکي او مسلکي برخې مشر (کرکټ ډایرکټر) رییس احمدزي له ازادۍ راډیو سره په خبرو کې وایي، دا د ټولو ځوانو لوبغاړو لپاره یو ښه خبر دی.ښاغلی احمدزی زیاتوي: ((د استرالیا په کرېکټ لیګ یا بېګ باش کې د نور احمد لکنوال لوبېدل دا پیغام ورکوي چې د افغانستان کرېکټ راتلونکي روښانه ده. د ځوانو لوبغاړو لوبېدل د نړۍ په سترو لیګونو کې د افغانستان نوي ځوانانو ته ښه پیغام ورکوي، که نوي ځوانان ښه کوښښ وکړي، نو کولای شي د نور احمد په څېر په داسې لیګونو کې ولوبېږي.))
ښاغلی احمدزی وایي، افغان کرېکټ بورډ د دغه ډول لوبغاړو په درلودو سره کولای شي سوکه سوکه د نړۍ پام ځان ته واړوي چې دا د کرېکټ راتلونکي لپاره ښه



خبر دی.بېګ باش کې سږ کال هره لوبډله اجازه لري چې په هره لوبه کې ۳ بهرني لوبغاړي ولوبوي، نو ځکه ملبورن لوبډلې ۳ بهرني لوبغاړي له ځان سره اخیستي دي.محمد نبي په تېرو دوو کلونو کې د دې لوبډلې لپاره لوبېدلی او سږ کال یې یو ځل بیا ورسره تړون لاسلیک کړی.د ملبورن لوبډلې سره سږ کال د محمد نبي په ګډون عمران طاهر او نور احمد لکنوال هم لوبېږي.نور احمد لکنوال کیڼ لاسی سلو توپ اچوونکی دی چې د کورنیو لیګونو ترڅنګ په ۱۹ کلونو نړیوال جام کې هم لوبېدلی.بېګ باش لیګ د راتلونکې ډسمبر په ۳مه پیلېږي چې څلور افغان لوبغاړي محمد نبي، راشد خان، مجیب‌الرحمن او نور احمد لکنوال د لسم پړاو لپاره ورته اخیستل شوي دي.

# باختر اطلاعاتي آژانس باید د سیمې او...

نویو رقابتي لارو چارو سره عیار کړو.
د باختر اطلاعاتي آژانس رییس څرګنده کړه: موږ پر آزاد، سالم، مثبت او رغند رقابت باور لرو؛ هغه رقابت چې د بیان آزادۍ، اطلاعاتو ته د لاسرسي حق او په هېواد کې د ازادو مطبوعاتو په پیاوړي کولو کې مرسته وکړي.د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست محمد طاهر زهیر هم په خپلو خبرو کې د باختر اطلاعاتي آژانس ۸۰ یمه کالیزه د باختر آژانس رییس او د دغه بنسټ خبریالانو او د هېواد نورو رسنیو ته مبارکي وویله.
ده څرګنده کړه ،چې ۸۰ کاله مخکې د ملت بابا د سلطنت په وخت کې دغه اطلاعاتي آژانس فعالیت پیل کړ او په دې موخه جوړ شو، چې په مشرق کې یو خبري بنسټ او د ختیځ مرکزي او محوري خبري آژانس وي.
د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست وویل، چې د۲۰ کلونو په موده کې په اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کې څه دپاسه ۳۵۰۰ رسنۍ ثبت او راجسټر شوې دي، خو د دغه کمیت په اندازه باید کفیت ته هم پاملرنه وشي.ده د دې ترڅنګ چې د باختر اطلاعاتي آژانس کړه وړه او فعالیتونه یې په نیکي یاد کړل، څرګنده یې کړه چې باختر اطلاعاتي آژانس باید د سیمې او نړۍ په کچه یو له مهمو او معتبرو آژانسونو څخه شي.دغه راز په دې غونډه کې په فرهنګي چارو کې د جمهوري ریاست سلاکار شاه حسین مرتضوي، اورځلا، احمد سعیدي، نجیب الله منلي، احمدضیا بومیا او صدیق الله توحیدي په وار سره خبرې وکړې.دوی د باختر اطلاعاتي و، ننداري ته وړاندې شو.دغه راز د غونډې په بله برخه کې ګډونوالو آزاد بحث وکړ او د باختر اطلاعاتي آژانس د فعالیتونو او د دغه آژانس د کارونو د ښه والي په اړوند خپلې نظریې وړاندې کړې.د غونډې په پای کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معیین عبدالمنان شېوای شرق د غونډې بحثونه راټول کړل او



اژانس فعالیتونو ته اشاره وکړه او ویې ویل ،چې په یاد اژانس کې مجرب ظرفیتونه شته. هغوی د وسایلو، تجهیزاتو او امکاناتو کمښت د دغې رسنۍ د کار مخې ته خنډونه یاد کړل.په یاده غونډه کې هغه مستند فلم چې د باختر اطلاعاتي اژانس د مخکنیو فعالیتونو په اړوند جوړ شوی څرګنده یې کړه: په باختر اطلاعاتي آژانس کې ښه او مجرب کسان او ظرفیتونه شته چې د حکومت رهبري باید د باختر آژانس د حالت د ښه والي لپاره لازمه همکاري او پاملرنه وکړي چې په راتلونکي کې په دغه خبري آژانس کې د بدلون او ښه والي شاهد واوسو.

**باختر**

# (( مرکچي پلاوی دې د ملکیانو خوندیتوب...

خپل مهم لومړیتوب وټاکي.))تر دې مخکې د افغانستان د سولې لپاره د واشنګټن ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم په افغانستان کې د ناامنیو پر زیاتېدو اندېښنه ښوولې وه.ښاغلي خلیلزاد تېره سې شنبه په ټوېټر کې لیکلي: (( ناهیلي یم چې د اورکم لپاره له ژمنو سره سره دا کار نه‌دی شوی.))زه سیمې ته راستون شوی یم او ناهیلي یم چې د اورکم لپاره د ژمنو سربېره، دغه کار نه دی شوی. د یوه سیاسي جوړجاړي د ترلاسه کولو ور به د تل لپاره پرانیستي نه وي.زلمي خلیلزاد ویلي: د یوه سیاسي جوړجاړي د ترلاسه کولو ور به د تل لپاره پرانیستي نه‌وي.د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویاندې څو ورځې مخکې ویلي وو، د دې لپاره چې په قطر کې روانې مذاکرې ښه نتیجه ورکړي، په‌کار ده لومړۍ د جګړې ښکېل اړخونه جګړه ودروي او پر یوه دایمي اوربند سلا وکړي.په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی ماموریت (یوناما) تېره اونۍ په راپور کې ویلي، د روان ۲۰۲۰م کال په لومړیو ۹ میاشتو کې په افغانستان کې ۱۱۷،۲ ملکیان وژل شوي او ۷۲۲،۳ نور ټپیان شوي دي.د کورنیو چارو وزارت او امنیت شورا د زیاتو ملکي تلفاتو مسوول وسله‌وال طالبان بللي.د کورنیو چارو وزارت وایي، چې یوازې په وروستیو دوو میاشتو کې د وسله‌والو طالبانو په حملو کې ۲۶۱ ملکیان وژل شوي دي.

# طالبان مو موبایلونه چک کوي او شخصي شیان...

لغتو لاندې یې راونیولم او موبایل‌یې هم رامات کړ.))د لوګر مطیع‌الله هم د وسله‌والو طالبانو پر چک پواینټ وربرابر شوی دی.نوموړی وایي: سیمه نه‌ورمعلومېده ، خو د غزني په مربوطاتو کې طالبانو ورڅخه موبایل واخیست او هر څه‌یې په‌کې سر تر نوکه وکتل.دی وایي: (( له کندهار راتلم غزني ته لوګر ته تلم، په دې لاره کې طالبانو چک پواینټ درلود، په چک پواینټ‌یې ودرولو او تلاشي یې کړو، په تلاشي کې یې موبایل راڅخه واخیست، هغه ټوله ډېټا او ټول سیسټمونه‌یې وکتل.))مطیع‌الله وایي بخت‌یې ښه و او موبایل‌یې هېڅ نه‌درلودل ، ځکه خو طالبانو بېرته ورکړ.دا یوازې حمیدالله او مطیع‌الله نه‌دي چې موبایلونه‌یې په لاره وسله‌والو چک کړي، بلکې غزني ته له نورو ولایتونو او ولسوالیو څخه راتلونکي مسافر هم وایي: وسله‌وال طالبان‌یې په لاره موبایلونه چک کوي. دوی وایي: وسله‌وال طالبان په موبایلونو کې د مسافرو شخصي حریم ته ننوځي، کورني عکسونه او ویډیوګانې یې ګوري. دغه مسافر وایي: طالبان د عکسونو او ویډیوګانو له موندلو وروسته مسافر وهي او شکنجه کوي یې.دوی دا هم وایي، که د دغه مسافرو په موبایلونو کې د سرتېرو عکسونه، د وسله‌والو ضد مواد او د دوی له نظریې چپ مواد پیدا کړي، هغه کسان له موټرو ښکته کوي او ځان سره‌یې بیایي.د غزني محلي چارواکي هم وایي، چې له څه وخته وسله‌وال طالبان د خلکو موبایلونه او کمپیوټرونه ګوري.د غزني د والي ویاند واحدالله جمعه‌زاده وایي: (( طالبانو په خلکو لوی تلېفونان بند کړي وو، کله چې به‌یې ورسره ګیر کړل ورماتول یې، میموري ګانې یې وربانديې خوړلې، خو اوس پر لویه لارو هم د خلکو موبایلونه چک کوي، ډېټا یې ګوري، د خلکو شخصي حریم ته ننوځي، د کورني عکسونو ترڅنګ که د سرتېرو عکسونه په‌کې پیدا کړي، شکنجه کوي یې، وهي یې حتي وژني یې.))په غزني کې مدني فعال نسیم سوداګر وایي: هغه مسافر چې غزني ته له بېلابېلو لارو تګ راتګ کوي او د طالبانو له چک پواینټونو سره مخ کېږي، د ډېرو موبایلونه طالبان په جزئیاتو ګوري.ده وویل: (( د دوی شخصي ډېټا چې د دوی په موبایلونو کې ده او ټولنیز آدرسونو ته لاسرسي پیدا کوي، حتی ځینې داسې مواد دي، چې کورني مواد دي، شخصي ډېټا هغه ګوري، کله ناکله د ریکوري، ځینې سافټویرونه لري، چې د ځینو مسافرو که مشکوک وي او که غواړي د هغوی ډېلېټ کړي مواد ریکور کړي، نو په دغسې حالاتو کې بیا د خلکو شخصي ډېټا د طالبانو موبایلونو او یا هم کمپیوټرونو ته انتقالېږي.))د بشري حقونو د خوندیتوب ټولنې د چا له خوښې پرته د هغه د خصوصي موبایل او نورو معلوماتو کتل او پلټل د یو شخص پر شخصي حریم تېري او بشري سرغړاوي بولي.تر دې وړاندې هم طالبانو د غزني په ځینو ولسوالیو کې د سندرو په اورېدلو، سمارټ (ځیرک) موبایلونو په ګرځولو، د ږیرو په خرېیلو، تېز رنګ او تنګ کالو په اغوستلو، د ټیټو پایڅو په ګرځېدو او د ډولي وېښتانو په جوړولو بندیز لګولی وو.د غزني د اندړو، ده یک او ځینو نورو ولسوالیو اوسېدونکو آزادۍ راډیو ته ویلي وو، طالبانو په جوماتونو کې په سپیکرونو کې اعلانونه کړي او دغه محدودیتونه‌یې وربانديې لګولي دي.

دوشنبه د لړم۱۲ مه۱۳۹۹ ل کال ● د ربیع الاول ۱۶مه ۱۴۴۲ ق ● د نومبر ۲ مه ۲۰۲۰ کال ● خصوصي ګڼه ۱۷۲ ● پرله پسې ۴۹۵۸ مه ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hewad Daily

دوشنبه د ۱۳۹۹ل د لړم۱۲ مه دربیع الاول۱۶مه د 2/11/2020

۱ ډالر ۷۶.۹۳ افغانی | ۱۰۰۰ هندی روپی ۱۰٤۰ افغانی | ۱۰۰۰تومان ۳.۰۰ افغانی | ۱۰۰۰ پاکستانی روپی ۴۶۵ افغانی

د دولتي ورځپاڼو رییس : فرید احمد فرهنګ-۰۷۰۴۰۰۸۰۸۰
مشر مسوول: احمد زلمی شهباز -۰۷۰۰۰۷۸۵۷۸
مسوول سکرتر : شېرمحمد نظري ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱
کتونکې ډله: شاولي قرار، سیدیوسف شریفي، رفیع الله رووفي،محمد یونس مایار، میر مسجدي عزیزي
ډیزاین: روان
د ورځپاڼو د وېش څانګه: ۰۷۰۸۲٤٥٦۰۰
برېښنالیك : hewad1948@gmail.com
د دولتي ورځپاڼو ویبسایت: www.dailies.gov.af
www.facebook.com/Hewad1948




## (( مرکچې پلاوی دې د ملکیانو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي ))

د بشر حقونو څار نړیوال سازمان وایي: دې ته اړتیا ده ،چې د مذاکرو ښکېل اړخونه د ملکیانو خوندیتوب او د نامشروع حملو بندول، خپل لومړیتوب وټاکي.که څه هم د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان دولت او طالبانو د مذاکره کوونکو خبرې د سپټمبر له ۱۲مې راهیسې روانې دي، له یوې خوا دغه خبرې د کومې کوټلې نتیجې سبب شوې نه‌دي، له بلې خوا په افغانستان کې روانه ناامني ختمه شوې نه‌ده.همدې موضوع د بشر حقونو د څار نړیوال سازمان اندېښنه هم پارولې ده.د دې سازمان د آسیا د برخې مرستیالې پاتریشیا ګاسمن وایي، د دې لپاره چې خلک د سولې پر روانه پروسه باور وکړي، باوري سیاسي جوړجاړي ته اړتیا ده.هغې زیاته کړه: (( عام افغانان اندېښنه لري، چې له یوې خوا خبرې ځنډېدلي او کومه نتیجه نه‌لري، له بلې خوا د ناامنیو زیاتېدل هم د ملکیانو د کړاو زیاتېدو سبب شوي. زما په نظر، د دې لپاره چې خلک پر دې پروسه باور ولري او دا پروسه د یوه سوله‌ییز جوړجاړي سبب شي، څرګنده ده هغه اړخونه چې په مذاکرو کې ښکېل دي، باید د ملکیانو خوندیتوب، د خلکو د کړاو کمېدل او د نامشروع حملو ختمول

۷مخ

## غزني ته تلونکي مســـافر: طالبان مو موبایلونه چک کوي او شخصي شیان ورڅخه ښتوي



غزني ته له نورو ولایتونو څخه راتلونکي مسافر وایي، وسله‌وال طالبان‌یې په لاره موبایلونه چک کوي او په‌کې د خلکو شخصي معلومات، کورني عکسونه او وېډیوګانې ګوري او کله ناکله‌یې له ځان سره ښتوي.د غزني ښار د شهیدانو څلور لارې ترڅنګ

د افغانستان له جنوبي ولایتونو څخه د راغلو موټرو تم‌ځای دي.له اوږدې لارې راغلی ستړی مسافر له موټر دلته ښکته کېږي، اوږده او له خطر ډکه لاره‌یې وهلې وي، څېرې یې ګرد وهلې او په سترګو کې یې ستړیا له ورایه معلومېږي.هغه لارې چې دوی پرې راتېر شوي ډېر کله د امنیتي او ترافیکي پېښو شاهدې وي، خو غزني ته د رارسېدو مسافرو په اندېښنو کې یوه بله هم اضافه شوې ده.دوی وایي په لاره کې یې طالبانو په موبایل تلیفونونو کې شخصي معلومات پلټل چې په‌کې د دوی کورني عکسونه او وېډیوګانې هم د طالبانو له‌خوا کتل شوي دي.حمیدالله چې تازه له اوږده سفر راستون شوی، د غزني په مقر کې د طالبانو د چک پواینټ کیسه کوي.ده زیاته کړه: (( له کندهاره راتلم، (د مقر ولسوالۍ) په لړمه سیمه کې یې زموږ د سپرلیو موټر ودراوه، د نورو خلکو شخصي ډېټا (معلومات) یې هم وکتله، کله چې زما ډېټا ته راغلل، موبایل‌یې په زور راباندې خلاص کړ، هلته یو څه عکسونه وو، کورني عکسونه هم وو، هغه چې یې وکتل پر ما یې حمله وکړه، تر سوکانو او

۷مخ

## هلمند یان : د سب ستېشن تاسیسات باید وران نه شي

هلمندیان وایې ،د وسلوالو طالبانو څخه مو غوښتنه داده، چې د کندهار او هلمند دوه لاره کې پروت د برېښنا سب استېشن ته دي هېڅ ډول زیان نه رسوي . دوی دا خبري د هغه راپورونو له مخې کوي، چې وایې وسلوال طالبان غواړي د د کندهار هلمند دوه لارې سب استېشن پر شاوخوا د جلتو (ایسکو ) محافظتي دېوالونه لري کړي، ځکه د دوی په اصطلاح دا جلتي (ایسکو ) د امنیتي ځواکونو دي او په بیا راتګ سره په کي ځای پر ځای کېږي .. د تازه راپورونو له مخې، وسلوال طالبان هغه ٥٦ کانتینران او شاوخوا ځینې نور تاسیسات د دولت اړوند بولي، نو ځکه وایې چې باید یې له منځه یووسي .د هلمند اوسیدونکي وایې : په اصل کې حقیقت دادی چې د فقر په پیسو را ټول شوي دا ټول دار او ندار د دې بېچاره ملت بیت المال دی .دوی زیاتوي ددغه محافظتي جلتو (ایسکو) څخه هېڅکله امنیتي ځواکونو ګټه نه ده اخیستې او نه هم ورڅخه بله سیاسي استفاده شوې ده .یادکسان وایې: د دې کار زیانونه ډېر دي چې بیا به د سرخوړي سره مخ شو دوی وایې، دا چې دا ساحه هر وخت د جګړې ډګر وي که د جلتو (ایسکو )دغه محافظتي دېوالونه نه وي ، هغه ګران بیه ترانسفرمرونه او ځینې نور تخنیکي وسایل به د مرمیو له جدي ګوابښ سره مخ وي .یاد کسان زیاتوي ،چې د عامه تاسیساتو خوندیتوب چي د بیت المال اړوند دی ، مسوولیت یې د ولس ،وسلوالو طالبانو او افغان حکومت دی ، البته که چیري ځان دې ولس ته مسوول ګڼې .وسلوالو طالبانو د یاد سب ستیښن په اړه تر اوس د یادو کسانو په غبرګون څه نه دي ویلي



### پـــه هېوادکې د کورونا ویـــروس د مثبتو پېښو شمېر ۴۱۵۰۱ ته ورسېد

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو په اســاس په تېرو ۲۴ ســاعتونو کې په هېواد کې د کورونــا ویرس ۷٦ مثبتې پېښــې ثبت شــوي دي.د عامې روغتیا وزارت پرون ویلي، چې په تېره شــپه او ورځ کې د کورونا ویروس د ۳۰۷ مشکوکو سمپلونو معاینات شوي چې ۷٦ یــې مثبت وو.د یــاد وزارت د معلوماتو په اساس په دې سره په افغانستان کې د کورونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۴۱۵۰۱ ته پورته شــو.همدارنګه په تېــرو ۲۴ ســاعتونو کې د کورونــا ویروس له امله د مړینــې راپور نه دی ورکړل شــوی او د تیرې ورځــې د معلوماتو په اســاس تر دې مهاله افغانستان کې له کورونا څخه ۱٥۳٦کسان مړه شوي دي.د معلوماتو په اساس تر دې مهاله ۳۴۳۲٦ کسان بیرته کورونــا ویــروس څخه جوړ شــوي دي.کورونا ویــروس د لومړي ځل لپــاره د ۲۰۱۹ کال په دســمبر میاشت کې د چین د هوبي ایالت په ووهان ښار کې پیدا شو، ډېر ژر په وبا واوښت او ټولــې نړۍ ته خپور شــو.د امریکا د جانس هاپګینــز پوهنتــون د معلوماتو لــه مخې، تر دې مهالــه په نړۍ کې څه باندې ۴۵ میلیون کســان په کرونا ویروس اخته شوي او شاوخوا یو میلیون نور کســان د دغــه ویروس له کبله مړه شوي.

## بهرني لنډخبرونه

### ټرمپ په امریکا کې له ګډوډیو خبرداری ورکړ




ټرمپ خپلو پلویانو ته ویلي ، چې ښــایي د راتلونکي سه شنبې ورځې د ولسمشـــریزو انتخاباتو پایلو ته باید یو څو اوونۍ انتظار وباسي. دغه خبره ټرمپ د پنسلوینیا آیالت په نیوټن ښــار کې وکړه. د ټرمپ دغه خبرداری د سړک په سر ګډوډیو ته اشــاره نه ده، بلکــې مقصد یې د لیک یا خط په واسطه ورکړل شوې رایې دي.د هغه جمهوري غوښتونکي ګوند هڅــه کــړې وه ،چې په پنســلوینیا کې د دغســې انتخاباتي لیکونو په واســطه د ورکړل شویو رایو د شمېرنې د مهلت د اوږدېدو مخه د حقوقي لارې ونیسي، خو په دې چاره کې ناکامه شوی وو. د لیک د لارې ورکړل شوې رایې، چې د پُستې له خوا د مهلت سره سمه ټاپه ولري باید اوس وشـــمېرل شي، که حتی د نومبر د درېیمې یعنې د انتخاباتو د ورځې دری ورځې وروسته هم ورسېږي.که د ټرمپ او د هغه د دموکرات سیال جو بایډن تر منځ سیالي ډېره جوخته وي، نو کېدای شي د پنسلوینیا رایې تعیینونکي نقش ولري.

### روسیه: که جګړه ارمنستان ته ورسېږي ایروان ته (اړینه) مرسته برابروو



روســیه وایي: که د نګورنو قره‌باغ پر ســر د ارمنســتان او آذربایجان جګړه، د ارمنســتان خاورې ته ورسېږي، روسیه به ایروان ته (اړینه) مرســته برابره کړي.دغه خبره د روسیې د بهرنیــو چارو وزارت پرون په بیان کــې کړې او له دواړو خواوو غوښــتل شــوي، چې ژر تــر ژره تاوتریخوالی کم کړي.د ارمنســتان صدراعظم نیکول پاشینیان د روسیې له ولسمشر ولادیمیر پوتین نه وغوښتل ،چې د امنیتي مرستې په اړه بېړنې بحثونه پیل کړي.په بیان کې راغلي، پاشــینیان پوتین تــه په خپل لیک کــې ویلي ،چــې تاوتریخوالي د ارمنستان پولې ته نږدې شوي، په داسې حال کې چې ترکیه له آذربایجانه ملاتړ کوي.ارمنســتان او آذربایجان یوه ورځ مخکې هوکړه وکړه، چــې د ملکیانو د هدف ګرځولو مخه باید ونیسي او نور بېړني ګامونه هم پورته کړي.تازه راپورونه وایي چې د داوړو لورو ترمنځ جګړه شــوې ده.دغه جګړه د سپټمبر په ۲۷مه ونښــته او تر اوسه درې ځله اعلام شوي اوربند هم مات شوی دی.

### په صربیا کې له ۴۵ زرو ډېر کسان پر کورونا ویروس اخته شوي



په زرګونه کســانو وړمه ورځ په مونته‌نګــرو کې د صربیا د ارتدکس کلیســا مړه شــوي رهبر ته د درناوي لپاره راغونډ شول.

میټروپولیټــن امفیلو هیجه په کورونا ویروس تر اخته کېدو وروســته په روغتون کې بستر شوی و، چې وروسته‌یې ساه ورکړه.د ارتدکس کلیســا دغه مشر پرون خاورو ته وسپارل شــو.د صربیا ارتدکس کلیسا له خلکو غوښتي، چې د دغه مذهبي مشــر د جنازې مراسمو پر مهال ماسکونه وکاروي او له یو بله جســمي فاصله وساتي.د امریکا د جانز هاپکنز پوهنتون د شمېرو له مخې په صربیا کې تر اوسه تر ۴۵ زرو ډېر کســان په کورونا ویروس اخته شوي او تر ۸۰۰ زیات کسان‌یې په نتیجه کې مړه شوي دي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**